داکتر کریم غروال

۲۱ جنوری ۲۰۲۲

## د جوبایدن اظهار په هکله!

که افغان ملت واحد نه وای نو هیڅکله افغانستان د امپراتورانو په قبرستان نشو مشهور کیدای ، بلی اجنبیانو همیش د افغان ملت تفریقی او نفاق اچولو کښی د خپلو لاسپوڅو په وسیله هلی ځلی کړی دی او هم ئی کوی همدا سبب دی چی افغان ملت ئی د تامی بدبختی سره مخامخ کړې دی او اجنبیان هڅی کوی چی افغانستان خاوره ټوټه کړی او یائی د دنیا نقشی څخه محوه کړی ، ددی خیانت لپاره اجنبیانو همیش خپل لاسپوڅی تقویه او حمایه کړی دی لکه د افغانستان ترقی او پر مخ تګ ارمانونه د غازی امان الله خان د ده شاوخوا چاپلوسانو او اجنبیو لاسپوڅو تر خاوری لاندی کړل او وروسی د شهید محمد داؤد خان ملی ارمانونه تر پښو لاندی شول !!!! تر څو چی چاپلوسان او د اجنبیو لاس پوڅی د یو زعیم شاوخوا وی دا بیماری به روانه وی او ددی خائینینو په وسیله به د افغان غیرتی ملت قربانی کومی مثبتی نتیجی ته ونه رسیږی!!!!

ای منورو؟ افغانانو!

همدا بس دی او پرستونی راونغاړی دداسی مضرو مکروبونو مقابل کښی خپل افغانی مقاومت ښکاره کړی او چاپلوسانو او اجنبی لاسپوڅو ته موقع ورنکړی چی افغانان پخپلو مینځو کښی د لا بی اتفاقی کندی ته واچول شی او که بیداری رامینځ ته نشی نو د بی سواده غیرتی ملت به هیڅوخت ځای ونه نیسی!!!!!